# د پوهاند رښتين فولکلوري هڅې

# The Folk Efforts of Professor Reshteen's

Dr.Abdul Ahad Mangal*

**Abstract**

Professor Seddiqullah Rashteen gave his shoulder to the service of the Pashto language and literature at a time when the Pashto language was lagging behind other neighboring languages in this region in terms of science and culture. making this language academic, official, and the language of teaching and press was a very important demand and basic need of the time. At that time, some famous writers started academic and purposeful work for the service of Pashto language and literature. A person from this group, Professor Rashtin, also joined the literary and cultural range of the Pashto language in those early days and started scientific and practical efforts in the process of growth and development of the Pashto language and literature.

Along with his academic colleagues, Rishteen has started collecting and researching ancient, classical literature and other aspects of literature, along with rules and grammar of the Pashto language, folk, and folk literature. Here only a brief review of his writings and research on folklore and folklore literature is taken.

**Keywords**: Folk Lore,Neighbour Languages, literary Culture.

د څېړنې میتودونه:

د پوهاند صدیق الله رښتین د فولکلوري هڅو په باب څېړنه د تاریخي او تشریحي میتودونو په رڼا کښې تر سره شوې چې مواد یې د کتابونو له لارې تر لاسه شوي دي.

مبرمیت:

په دې څېړنه کې د پوهاند صدیق الله رښتین فولکلوري آثار په نښه او د یادو آثارو موضوعات ارزول شوي دي

* Associate Professor Academy of Sciences Kabul Afghanistan.

موخه:
دا څېړنه په دې موخه تر سره شوې، چې د پښتو ادبیاتو د ودې او ایجاد په ډگر کې د نورو څېړنو تر څنگ د پوهاند رښتین د فولکلور او ولسي ادبیاتو څېړنې را برسېره، مینه والو، څېړونکو او لوستونکو ته په ننبه شي.
لنډيز:
استاد پوهاند رښتین دا سې مهال د پښتو ژبې او ادب د خدمت ډگر ته را ودانگل چې دغه ژبه له علمي او فرهنگي لحاظه په دې سیمه کې له نورو گاونډیو ژبو، څخه ډېره وروسته پاتې وه، د دې ژبې علمي کول، دفتري کول، د درس تعلیم او مطبوعاتو ژبه گرځول د وخت ډېره مهمه غوښتنه او بنسټیزه اړتیا وه، هماغه مهال ځینو نومیالیو ادیبانو، د پښتو ژبې او ادب د خدمت لپاره متې را نغاړلي وې، دی هم په هغه لومړیو کې د دغه ادبي او فرهنگي کاروان مل او د پښتو ژبې او ادب د ودې او پرمختیا په بهیر کې یې علمي او عملي هلې ځلې پیل کړې.
ده له ملگرو سره په یو وخت کې د لرغوني، کلاسیک ادب او د ادبیاتو په نورو اړخونو، د پښتو ژبې د قواعدو او گرامرونو ترڅنگ، د فولکلوري او ولسي ادب را ټولول او څېړل پیل کړي چې دلته یې یوازې د فولکلور او فولکلوري ادب په باب د لیکنو او څېړنو لنډ جاج اخیستل کېږي.
مرکزي لغات: صدیق الله رښتین، پښتني فولکلور، پښتو ادبیات، د اشعارو ډولونه، د پښتو ادبي مکتبونه، د پښتو د ادب تاریخ، د ژوند سندره، پښتو قیصې، پښتني لارښود.
متن:
په عام ډول د پښتو ادبیاتو او په ځانگړې توگه د پښتني فولکلور او ولسي ادبیاتو د مطالعې په معاصر بهیر کې د پوهاند رښتین پر فولکلوري هڅو باندې تر بحث مخکې؛ غواړم په لنډیز سره د پښتني فولکلور د خوندي کولو او څېړلو بحث په دې پیل کړم چې پښتانه د یو لوی قوم په توگه لر او بر په یوه پراخه جغرافیه کې له زرگونو کلونو را په دې خوا ژوند کوي. په عام ډول د نړۍ په تاریخ کې او په ځانگړې توگه د آسیا؛ بیا د منځنۍ او جنوبي اسیا په تاریخ کې یې د ځلانده ستوري په شان ډېر مادي او معنوي

ارزښتونه حک شوي، د بشري ټولنې د سترې او مهمې برخې په توګه، د تاریخ او کلتور د نورو ممیزاتو تر څنګ د فولکلور، په ځانګړې توګه د فولکلوري ادبیاتو ډېره شتمنه او بډایه پانګه لري.

دغه معنوي او مادي پدیدې په ځانګړې توګه شفاهي فولکلور، د ټولنیز ژوند په جریان کې په نالیکلې بڼه له یوه نسل څخه بل ته لېږدېدلی، د همدغه لېږد په بهیر کې د ادلون بدلون ترڅنګ یې د ټولنیزې ودې او پرمختیا په بهیر کې ډېرې برخې هېرې شوي او ورکې شوي؛ خو د همدغه جریان په اوږدو کې ځینې نورې برخې پرې ورزیاتې شوي، چې همدا لړۍ ترننه راروانه ده.

دا چې د پښتني فولکلور ټولونې او څېړنې ته تر ټولو لومړۍ چا پام اړولی او کومو ادارو ورته کار کړی دا موضوع ځانته څېړنه غواړي خو پوهاند رښتین یو له هغو علمي- فرهنګي شخصیتونو څخه دی چې د پښتو ادب پر نورو برخو سر بېره یې د دغې ژبې فولکلور او شفاهي ادب ته هم پام اړولی او ځانګړي آثار یې پنځولې دي.

زه په دې لیکنه کې د استاد رښتین د نورو ځانګړو آثارو په باب چې شمېر یې تر (۷۰) اوړي څه نه وایم، یوازې هغه آثار دلته در پېژنم او بحث وربانديې کوم چې د شکل او مضمون له مخې په عام ډول فولکلوري او په ځانګړي ډول د پښتو ولسي ادب اړوند موضوعات لري.

دلته دا خبره د یادونې وړ ده چې د نوموړي د آثارو د مطالعې په لړ کې د هغه پر ځانګړو (مستقلو) چاپ شوو آثارو سر بېره ځینې داسې مقالې، لیکنې او څېړنې هم مخې ته راځي چې دوی پکې په عام ډول فولکلوري مسایل او یا په خاص ډول په پښتني فولکلور او ادب پورې اړوند موضوعات څېړلي دي. دلته موږ په دې مقاله کې د بحث د نه اوږدولو په خاطر د ټولو لیکلړ نشو وړاندې کولی، یوازې به د ده هغه آثار له لنډې شننې سره در وپېژنو چې د ځانګړو کتابونو یا رسالو په بڼه چاپ او خپاره شوي دي.

ماته د څېړنې پر مهال دا لاندې ځانګړي چاپ آثار معلوم شول چې ټول او یا یې یوه زیاته برخه په پښتني فولکلور او ولسي ادب پورې اړه لري:

۱- پښتو ادبیات، ۲- د اشعارو ډولونه، ۳- د پښتو ادبي مکتبونه، ۴- د پښتو د ادب تاریخ، ۵- د ژوند سندره، ۶- پښتو قیصې، ۷- پښتني لارښود.

۱- پښتو ادبيات:

(پښتو ادبيات) هغه اثر دی چې د پښتو ادبياتو په باب يې ليکلی، کله چې دی له کابل دارالعلوم څخه فارغېږي، نو په ۱۳۱۸ لمريز(۱۹۳۹م) کال د پښتو ژبې او ادب د خدمت په موخه په پښتو ټولنه کې دنده اخلي او عملاً د پښتو ژبې او ادب په خدمت لاس پورې کوي. پښتوټولنې ته له ورتګ سره سم په همدغه ۱۳۱۸ لمريز کال د (پښتو ادبيات) رساله لیکي او په همدغه کال د حوت د مياشتې په ۳۰ نېټه، د کابل کالنۍ په (۳۸۴-۴۲۵) مخونو کې خپرېږي، دغه اثر په څلورو برخو ويشل شوی چې لومړۍ برخه يې د پښتو ولسي ادب ته ځانګړې شوې ده چې په هغې کې د منظوم ولسي ادب ټول مشهور ډولونه، لکه لنډۍ (ټپه، مسره، ټيکۍ) رباعي(مقام) غزل، چاربيته، ناري يا غړونه، بګتۍ، نيمکۍ يا سر، لوبې، سندرې يا ولسي بدلې(۲) را غلي او په ترتيب سره يې د منظوم ولسي ادب د ډولونو په هر يو باندې اوږد بحث شوی، همدا ډول يې د ولسي ادبياتو په اړه په زړه پورې نوي معلومات وړاندې کړي چې د اوسنيو څېړنو او ليکنو په نسبت يې تحليلونه، پرتلنې او تجزيې ډېرې دقيقې، دلايل يې ډېر کره او پوره دي.

پوهاند رښتين د کابل کالنۍ (د پښتو ادبيات) متن په لمن ليک کې د دې اثر د ليکلو په اړه ليکلي:

((دامقاله داسې يو مأخذ نه لري، ولې چې د پښتو د پاره په دې باره کې څه ذخيره نشته ده، بلکه دامقاله ما د خپل فکر او کوشش په زور سره ليکلې ده، دا ځما د تتبع او د استقرا نتيجه ده.

د پښتو د ديوانونو د مطالعې او د بعضې شاعرانو د نوټونو د ملاحظې نه مې استنباط کړی دی او بس او که له کوم ځای نه د مقالې اخذ شوی وي، نو هغه حواله مې هم په هغه صفحه کې ورکړې ده.))(۳)

۲- د اشعارو ډولونه:

(د پښتو اشعارو ډولونه) دا د استاد رښتين په زړه پورې څېړنه ده، چې د تاج محل کمپنۍ له خوا په قصه خوانۍ بازار پېښور کې په ۱۲۱ مخونو کې چاپ ده، د پښتۍ رنګ يې زرغون دی، د چاپ او ليکلو نېټه نه لري، (د کتاب پېژندنه) کې يواځې د کتاب نوم، ليکوال، د چاپ پته، بيعه او د پيداکيدو پته، پرې ليکل شوي، د دې رسالې د متن په لمن

لیک کې ځای ځای ځیني لغات هم معنا شوي دي، څېړنپوه ډاکټر سید محی الدین هاشمي یې په اړه لیکي: ((د پښتو اشعارو ډولونو په اړه د استاد رښتین یوه څېړنه ده، چې په ۱۳۲۴لمریز کال یې بشپړه کړې او بیا پنځه لسیزې وروسته په پېښور کښې د تاج محل کمپنۍ له خوا په ۱۲۱مخونو کښې چاپ شوې ده.))(۴)

(د اشعارو ډولونه) اثر په دریو برخو ویشل شوی، چې دلته یې یوازې هغه برخه در پېژنو چې په کې د پښتو ولسي ادب په باب څېړنه او شننه شوې ده.

د دې کتاب لومړۍ برخه (۳- ۳۲ مخونه) د پښتو ولسي ادب پېژندنې ته ځانګړې شوې ده او په کې د دغه منظوم ادب دا لاندې ډولونه د ډېرو خوږو او په زړه پورې بېلګو په استناد معرفي شوي دي.

(۱)پښتو لنډۍ (۲) نارې (۳) سروکي (۴) نیمکۍ(۵) لوبه (۲) بګتۍ (۷) ولسي غزل (۸) چاربیته(۵

د بېلګې په توګه ده له نن نه (۷۴) کاله وړاندې یعنې نږدې یوه پېړۍ مخکې د لنډیو په باب هغه څه ویلي چې تر ننه پورې ترې ستفاده کېږي.

۳- د پښتو ادبي مکتبونه:

دا کتاب په ۱۳۲۲لمریز کال لیکل شوی او په ۱۹۸۸م کال په پېښور کې یو نیورسټي بک ایجنسي چاپ کړی دی، دلته یې موږ یوازې هغه برخه درپېژنو، چې د پښتو ولسي ادب په اړه په کې څېړنه او سپړنه شوې ده په دې اثر کې د پښتو د نورو ادبي مکتبونو په لړ کې ولسي ادبي مکتب په لنډ ډول پېژندل شوی او د ولسي جنګي سندرو بېلګې په کې راغلي، دغه بحث د کتاب په (۲۵- ۳۳) مخونو کې په لنډ ډول راغلی دی.(۲)

۴- د پښتو د ادب تاریخ:

دا اثر لومړی ځل په ۱۳۲۵ لمریز (۱۹۴۲م) کال پښتو ټولنې چاپ کړی او بیا وروسته تر ننه څو ځله د بېلابېلو خپرندویانو له خوا چاپ او خپور شوی دی، دلته یې یوازې پر هغه برخه بحث کوو، چې د پښتو د ولسي ادبیاتو په اړه په کې لنډه څېړنه شوې ده.

پوهاند رښتين دې موضوع ته په پاملرنه، چې ((ولسي يا عاميانه او فولکلوري ادبيات د هرملت او ولس په ادبي تاريخ کې ارزښتمنه ونډه لري او د هغو له يادونې پرته د يوې ژبې د ادبياتو مطالعه نيمګړې بريښي.)) په خپل اثر (د پښتو دادب تاريخ) کې د پښتو د ولسي ادب مطالعه او پېژندنه له پامه نه دي غورځولي چې په (۱۰۲ - ۱۲۵) مخونو کې يې د پښتو زيات شمېر ولسي شاعران، لکه: سليم، رسولداد، نورالدين، نيازمحمد، حضرت علي، اکرم جان، سيدکمال، ميرا، صفت خان او نور د اشعارو بېلګو سره را پېژندلې دي.(۷)

**۵**- پښتني لارښود:

دا اثر په **۱۳۵۲** لمريز کال ليکل شوی او په ۲۰۰۰م کال په پښتونخوا پېښور يونيورسټي بک ايجنسي له خوا په **۷۹** مخونو کې د زر ټوکو په شمېر چاپ او خپور شوی دی.

د کتاب منځپانګه؛ چې ټوله پښتني فولکلوري مسايلو ته ځانګړې شوې، په درې برخو ويشل شوې ده.

له ليک لړ وروسته د ليکوال سريزه ور پسې په ۷ مخ کې لومړۍ برخه پښتني خويونه تر سرليک لاندې پېل کېږي، تر ۲۰ مخ پورې بېلابېل موضوعات تر دغو سرليکونو لاندې راغلي دي.

پت او عزت، ښېګڼه او نيکي، وفا او وعده، توره او ميړانه، ننګ او غيرت، رښتيا او صداقت، زړورتيا او همت، انصاف او عدالت، شرم او حياء، ښه ځواني او سخيتوب، امانت ساتل، سلامشوره او په دوهمه برخه کې پښتني دودونه(۲۱- ۳۱) مخونو کې په دغو سرليکونو کې اړوند موضوعات تشريح شوي دي.

جرګه، ننواتې، تيره، سوله روغه، پناه ورکول، ننګ وروړل، د ښځمنو درناوی، غزا او جهاد په دريمه برخه کې پښتني لارې چارې(۳۲- ۷۹) مخونو کې د لاندې سرليکونو موضوعات په لنډيز سره بيانوي.

بدرګه، بدل، برمته، داړه، بندن، چيغه، يرغمل، تړه او تړون، پېغور، کونډتون، اشر، د وطن ساتنه، بسپنه او مرسته، مېلمه پالنه، د مشرانو مننه، د مشرخوښونه، اختر او مېله، د اولاد روزنه، خپلوي او خيښي، روغبړ او ښه راغلی، خوراک او پوښاک، د کارونو وېش، ګوندي او پره، ځلويښتيان، ګاونډيتوب، سوګند او لوړه، د ځمکې خرڅون، لوبې

او سپورت، د رنځور پوښتنه، د مړي لاس نیوه (لاس نیوی)، د مړي خیرات، ویروسي، عام خیراتونه، پلارنۍ هدیره، میراث، زیارتونه، د جماعت او ملانمانځنه، د حاجیانو نمانځنه، د لاړي تګ، د واده چاړې، هوکې، خوره، کوژده، پښه ارتی، چنغول، چنغوله، ولور او مهر، د اختر جوړه، د لور داج، واده، نکاح تړل، د واده مبارکي، پړوني ورکول، د زوی خوشحالي، د ځمکو وېش، د کورونو وېش، د اوبو وېش، ورشوګانې، سزاګانې، د مړي سزاګانې، د ژوبلې سزا، د خطايې او غلامړيو سزا، د زنا سزا، د غلا سزا، د شيخ ملي سزاګانې(۸)

مخکې تر دې چې د استاد رښتین د پښتني لارښود پر منځپانګه تحلیلي کتنه وکړم، د استاد حبیب الله رفیع هغه ارزونه را اخلم، چې د دې اثر د منځپانګې او محتوا په باب يې وړاندې کړې ده:

((د پوهاند صدیق الله رښتین پښتني لارښود د ټولو اړخونو، کړو وړو، راشو درشو او راکړو ورکړو، یو وېړ او هراړخیز لارښود دی، چې ځای په ځای پر تاریخي سوابقو هم نظر ساتي او پر پښتونوالۍ د اوږدو او پراخو څېړنو له پاره د کارپوه پلان هم دی.

په دې ترتیب د پوهاند رښتین دا کوچنی کتاب د پښتونوالۍ کلیات په خپله غېږه کې رانغاړي او د دې لاره هواروي چې راتلونکي څېړونکي د همدې لارښود په رڼا کې د پښتونوالۍ په جزئیاتو پسې لټون او پلټون وکړي او د دې جوړې کړې نقشې د پاسه د پښتونوالۍ ماڼۍ له خپلې ټولې ښکلا سره ودانه کړي او د نړیوال تمدن له ظاهراً ځلیدونکي او بلیدونکو دنګو ماڼیو سره يې د مقایسې او پرتلنې ډګر ته را وباسي په دې توګه د پوهاند رښتین دا کوچنی او وجیز کتاب به د پښتونوالۍ د پولو ټاکلو په برخه کې د لوی، وېړ او غوړېدلي کتاب کار کړي او علاقمندان به د پښتونوالۍ د دنګ قد او قامت ننداره ته را وبولي))(۹)

د کتاب د منځپانګې په اړه دې پورته څرګندونو ته په کتنه ویلی شو چې په دې اثر کې د پښتو او پښتونوالۍ ولسي قوانینو او پښتني دودونو په اړه لنډه، خو ډېر په زړه پورې پوره او کره مطالب په ډېره خوږه ادبي ژبه بیان شوي دي دا اثر د حجم او پاڼو د شمېر په لحاظ وړوکی دی، خو د معنا او منځپانګې په لحاظ ډېر لوړ او هر اړخیز دی، استاد په دې لنډه رساله کې په اصطلاح سمندر په کوزه کې ځای کړی او د پښتونولۍ، پښتني

عنعناتو، ولسي قوانينو او مقرراتو اړونده مفاهيم يې په پوره فصاحت او بلاغت بيان کړي دي.

۲- پښتو قصې:

د فولکلوري لنډو قصوټولګه ده چې استاد رښتين او غلام رحمان جرار په ګډه ليکلې، ژباړلې او ترتيب کړې او په ۱۳۳۱ لمريز کال د پښتو ټولنې له خوا په ۱۲۴ مخونو کې په کوچنۍ جيبي کچه چاپ او خپره کړې ده.

د کتاب لومړۍ برخه (۱- ۹۲مخونه) پوهاند رښتين ليکلې او ژباړلې چې ۷۹ وړې کيسې دي او په ترتيب سره په دې سرليکونو راغلې دي:

د چغلۍ نتيجه، د ميښوملګري، داويش دې له چانه زده کړ، د بوډۍ باز، غل او دهقان، ګيدړ او سورلنډی، يتيم هلک، زمری او پيشو، يو ماهي دوه کيږي، ايلم او دوه سري، طالب او ملا، هوښيار طبيب، ضعيفه اشتها، الخير في ماوقع، لاس ماس وهل، زمری او سويه، زمري او غويان، دا ماهي نر دی که ښځه، زما زړه نه سوځي، عجيبه واعظ، په ځای شومتيا، سمدستي ميوه، د ګيدړ قواله، بې له مادې شل نه کړه، د بې پروايي تنيجه، هوښيارحکيم، عجيبه دوست، ناکام کاکا، د شيطان شکل، د ملاچرګک ميلمستيا، عجيبه سوالګر، سم ځواب، کلک سترګي ميلمانه، حاضرجواب سوالګر، ديارسره هم پنج، داګز او داميدان، خيټه خو دې خپله وه، د ګيډې علاج، د جولاپوښتنه، سم ځواب، سادګان، د ژرندې مزد، د رمضان وژل، بې ښځې ځوی غوښتل، طالبان او شيخ، مناره، ښه او بده، پيسو ته کوڼ نه يم، د المز او بالټکوک آخر التکوک، پر دې خط کتل، چينګ داړې، د بوډۍ غوا، د تادۍ کار، په دواړه جهانه اور، ځواني لټوم، غلي سپي شو، د اور خارښت، د دنيامنځ، د سيدمحمود پاچالټان، د ستورو مير، دارنګ دې د ځه شي ورکړی دی، شپږم مونځ، حاضرجواب نوکر، چپه پوستين، معتبربندي، ښه ځويه! کوه قاف، غل او غريب، رښتيا وايي، داکار زما نه دی، باسليقه ځوان، رمضان، د خره خاوند، شړۍ ورکيده، مرۍ يې راته وينې کړه، پنج عيب، غوږ خو در پورې دی، دا ځکه داسې دي، قيمتي حيوان(۱۰)

لکه څرنګه چې د کتاب له منځپانګې معلومېږي د استاد رښتين دغه اثر هم پښتو فولکلوري کيسو ته ځانګړی شوی، دغه کيسې د ټولنيز ژوند د کړو وړو مثبت او منفي

اړخونه روښانوي، لکه تاریخ چې د تیرو پېښو درس د روښانه راتلونکي لپاره موږ ته راکوي، همداشان فولکلوري کیسې مو د ټولنې په راز او نیاز پوهوي موږ ته د همدردۍ، ځیرکتیا، لاس نیوي، په ځان باوري کېدو، همداشان د ژوند د نورو مهمو اړخونو په اړه درس را کوي په همدې غرض د همدې اثر په اړه په خپله د لیکوال هغه څرګندونې را اخلو، چې د کتاب په سریزه کې یې د کیسو د منځپانګې د پېژندنې لپاره کړي دي.

((د پښتو دا حکایتونه سربیره پر دې چې اخلاقي او اجتماعي درسونه لري، د زړه خوښۍ، تفریح، او خوښ طبعۍ خواړه هم پکې پراته دي او د ټوکو وشتو مزه هم ورسره ملګرې ده داقصې د پښتو د خوږو خبرو اترو په رنګ کې له یو ځای بل ځای او اکثر د خلکو د خولو نه راټولې شوي دي په دې قصو کې یو مخصوص خوند، ځانله لطف او بل شان مزه پرته ده، چې په ویلو او اورېدلو یې زړونه خوښېږي او وچولي غوړېږي.

د دې کتاب په لمن کې وړې وړې قصې، ټوکې او وشتې، د پښتو ټکونه او اړونه سره راټول شوي او یوه خوږه مجموعه ترې جوړه شوې ده.))(۱۱)

۷- د ژوند سندره:

په عام ډول د موسیقۍ او بیا په ځانګړې توګه د پښتو ولسي موسیقۍ او د ساز او موسیقي د آلو په باب لیکل شوی کتاب دی، چې لومړی ځل په ۱۳۳۸ لمریز کال د کابل راډیو د نشراتو ریاست د پښتون ږغ مجلې د مدیریت له خوا په ۱۳۲ مخونو کې د زر ټوکو په شمېر چاپ او خپور شوی دی.

دا کتاب دوهم ځل په ۱۳۸۵ لمریز کال په پېښور کې د ساپي موقوفاتو (پښتو څېړنو او پراختیا مرکز) له خوا چاپ شوی دی.

کتاب داستاد بینوا (چې هغه مهال د کابل راډیو رئیس و) په یو یادښت سره، چې (وړاندې کول) تر سرلیک لاندې یې په کې د دې اثر په ارزښت او اهمیت لنډې خبرې کړې، پیل کېږي ورپسې لیکلړ او بیا په لومړي مخ کې د لیکوال سریزه راغلې، چې لومړی یې په کې د خپلو علمي- فرهنګي هلو ځلو لنډه یادونه کړې او بیا یې په دې اثر کې د خپلې لیکنې او څېړنې په څرنګوالي لنډ بحث کړی دی، په څلورم مخ کې د کتاب اصلي متن پیل او په ۱۳۲ مخ پای ته رسیدلی دی، په ترتیب سره په دې لاندې سرلیکونو موضوعات راغلي دي.

سندرې، موسيقي پېژندنه، د موسيقي تاريخ او پيدايښت، د موسيقي کلمه، موسيقي د پوهانو په نظر کې، موسيقي او مليت، موسيقي او مذهب، د موسيقي اغيزه او اهميت، د موسيقي نغمې، مقامونه، راګونه، نوبتونه، غربي موسيقي، د غربي ساز آلې، غربي سندرپوهاند او سندرغاړي، عربي موسيقي او د دوی آثار، هندي موسيقي، اروپايي موسيقي، پښتني موسيقي، لرغونې موسيقي، د ساز آلې: رباب، شپېلۍ، سرنده، ارمونيه، ستاره، تنبور، چنبه، غژکه، سورنۍ، ډول، ډولکی، بين، منګی، کرنا، بيګل يا تورم، تورۍ، سندرغاړي او سندرپوهاند، د لرې پښتونخوا سندرغاړي، په نورو ملکونو کې د پښتني موسيقي اغيزه، د سازآلې، پښتني ساز، اصطلاحات، د سندرو وختونه، موسيقي او نڅا، اتڼ، نڅا او ګډا، د پښتو موسيقي او پښتو شاعرۍ تړون، د پښتو موسيقي د پرمختګ لارې.(۱۲)

لکه په سر کې مو چې يادونه وکړه پر دې اثر استاد بينوا ښايسته جامع سريزه ليکلې ده چې د کتاب د منځپانګې د ارزښت په باب ډېرې د کار خبرې په کې راغلي دي د سريزې په يوه برخه کې د کتاب د منځپانګې او ارزښت په اړه ليکي:

((د کابل راډيو کار کوونکي وياړي چې د لومړي ځل لپاره د پښتني ساز او سرود په عالم کې په پښتو ژبه د پښتون ليکوال په قلم ليکلې شوي مهم اثر د موسيقي علاقه مندانو ته وړاندې کوي.

دا کتاب له دوو جهتونو د ستاينې او قدر وړ دی يو دا چې په پښتو ژبه کې دا لومړی اثر دی، چې د موسيقي په بابت ليکل شوی او بل دا چې د پښتني سازونو د نومونو د ځېړنو له کبله هم ابتکار لري.))(۱۳)

همداشان استاد حبيب الله رفيع ياد اثر په هر اړخيز ډول را پېژندلی او په کتاب کې يې د منځپانګې په زړه پورې او ارزښتناکو برخو ته اشاره کړې ده، دی ليکي:

((د ژوند سندره د پوهاند رښتين داسې اثر دی چې لومړی ځل يې پکې د پښتو موسيقي او دهغې آلې وڅېړلې او وځيرلې. د ژوند سندرې هم د موسيقي په عمومي اړخونو معلومات او مطالب درلودل اوهم يې د پښتو موسيقي ځانګړې آلات بېل بېل معرفي کړي، رباب، سرينده، باجه، دوکړۍ، او نور ټول موسيقي آلات يې را پيژندلي دي، دهر يوه د دوديدو او رواجيدو په تاريخچه پسې ګرځېدلی، د هرنامه فيلالوجيکي اړخ يې څېړلی، له ګاونډيانو سره يې د ورته والي په برخو خبرې کړې د پښتنو په ګاونډيانو يې د

پښتني موسيقي اغېزې څېړلي، نامتو هنرمندان يې ياد کړي او د پښتنو د ولسي موسيقۍ خوندونه يې بيان کړي دي. په دې ترتيب د پوهاند رښتين د ژوند سندره يو ابتکاري اثر دی، يعنې دا د ژوند سندره همداسې د ژوند سندره ده.))(۱۴)

څېړنپوه ډاکټر سيدمحی الدين هاشمي د پوهاند صديق الله رښتين د ادبي- فرهنګي خدمتونو څېړنه او کره کتنه د پي ايچ ډي د ډېرزتېشن په ترڅ کې کړې، ده استاد رښتين او اثار يې له هره اړخه ارزولي، چې د تېزېس اووم څپرکی يې د پوهاند رښتين فوکلوري ليکنو او څېړنو ته ځانګړی کړی دی، د همدې څپرکي وروستۍ موضوع يې (د ژوند سندره) اثر معرفي ده، چې د خپل تحليل په يوه څنډه کې د نورو پوهانو د نظرياتو په تائيديې فولکلوري اثر بللی، دی ليکي:

((د کتاب منځپانګې او دې پورته تحليلي کتنو ته د کتنې په پايله کې به ووايو چې په دې اثر کې يې په عام ډول موسيقي او دموسيقي آلات معرفي کړي، خو دا چې ډېر بحث يې د پښتو د ولسي او عامیانه موسيقي په اړه دی، نو ځکه يې د استاد په فولکلوري څېړنو کې شمېرو.))(۱۵)

لکه څرنګه چې استاد صديق الله رښتين د يوه متبحر ليکوال او څېړونکي په توګه د پښتو ادبياتو په هره برخه کې د قدر وړ آثار ليکلي همداشان يې پښتني فولکلور او ادب ته هم په خپل وخت پاملرنه کړې، ده د پورته ذکر شوو آثارو نه علاوه په لسګونو مقالې او سر مقالې د پښتو ولسي ادب په اړه د هېواد بېلابېلو خپرونو ته ليکلي چې د ولسي ادب ونډه پکې غوښنه ده، د استاد رښتين د هرې برخې څېړنه او جاج په دې ډول لنډو مقالو کې نه اخيستل کېږي، هغه پوره او کره څېړنو او شننو ته اړتيا لري، دلته يې يوائې (مشت نمونه خروار) په لنډ ډول يوائې چاپ شوي فولکلوري آثار معرفي شوي دي. چې همدا موږ د استاد د برياليو فولکلوري څېړنو په نوم يادولی او نمانځلی شو.

**Refrences**

1- Rashteen, sediqullah, ((pashtu adab)) Kabul kalanaye, Pashtu tolana, kabul, 1318, p 389, 408.
2- hum dagha p 425
3- Hashime, said Muhiuddin. Da pohand, sediqullah, Rashteen, da adabi – Farhangee khadmatonu Serana aw kara katna, maihan, khparandoya tolana, peshawar, 1395, p 369, 370.
4- Rashteen, sediqullah, da asharo dawlona, taj company, peshawar, da chap kal na lari
5- Rashteen, sediqullah, da pashtu adabi Maktabona, Universitie book Agency, 1388.
6- Rashteen, sediqullah, pashtu adab tarikh, Pashtu tolana, kabul, 1325.
7- Rashteen, sediqullah, pashtani Larshud, Universitie book Agency, peshawar, 2000, p 9, 14.
8- Rafi, habibullah, da puhand Rashteen yad, 2000, p 479, 480.
9- Rashteen, sediqullah, aw Jarar, gholam Rahman, pashtu qise, pashtu Tolana, kabul, 1331, p 15, 20.
10- hum dagha p 1, 2.
11- Rashteen, sediqullah, da Zwand Sandra, da safi da pashtu seranu da prakhtiya markaz, 1385, p 1, 132.
12- hum dagha p 1, 2.
13- Rafi, habibullah, Saba Storay Mujala, 7- 8 gana, 1379, p 79, 80.